## مطبوعاتي اعلاميه

## د هېواد پر سرنوشت لوبې کول بس دي

سربېره پر دې چې لس کلونه کېږي، د دغه نظام پر وړاندې چې تونس یې اشغال کړی دی، انقلاب پیل شوی دی؛ خو تر اوسه نه واقیعت بدل شوی او نه هم دا رژیم چپه شوی دی. که څه هم ځینې ځېرې لیرې شوې او پر ځای یې داسې کسان چې لږ جرم او گناه لري را پورته شوي دي. اصلي لامل یې د ناروغ ناسم تشخیص او د زیان شدت دی. اصلي ستونزه بهرنی نفوذ او د هغه  پانگوال تمدن دی چې د دې په وسیله یې ټول هیواد تر ولکې لاندې راوستلی دی. د اسبابو رامنځ ته کول او د مفسدو خلکو څخه ساتنه، د دوی له پاره له مفسدو رسنیو کار اخیستل او د قوانینو او احکامو په واسطه د دوی ساتل دي. په سیاسي صحنو کې د رایې ورکوونکو د ارادې په بدلون او د مالي سازمانونو د فشار په واسطه خپل ځان لوی ښکاره کول دي، چې دا د اشغال یو گډ نظام دی چې سیمې اشغالوي او غلاوې کوي. چې دا د غرب او د هغه د سفیرانو په واسطه مهارېږي. هر کله چې خلک د دغه مزدور په لیرې کولو بریالي شي نو غرب یې پر ځای له دې څخه ډېر بد کس ځای ناستی کوي. دا تېروتنه ده چې د مار له لکۍ سره ځان مشغول کړو او سر ته یې اجازه ورکړو تر څو د امت بدن ته زهر ننباسي.

نن ورځ لاریونونه د یوې سیاسي طبقې یعنې د حاکمانو او مخالفینو د لیرې کولو لپاره پیل شوي دي. دا سیاسي طبقه په خپلو کې سره لاس او گرېوان دي او هڅه کوي چې ځانونه د غرب او د هغه د استعماري غوښتنو خیالي خدمتگاران کړي. ځینې د دوی د دې لاریونونه ملاتړ کوي، سربیره پردې چې د پردې تر شا غواړي اساسي قانون ورباندې تحمیل کړي. د تصمیم نیولو د قدرت په تر لاسه کولو سره غواړي دغربي نظام ساتونکي او په اشغالگرو کې غټ کار کوونکي شي. ځینې بیا د دغه لاریونونو او لاریون کوونکو ستاینه کوي او غواړي چې د هغو خلکو پر وړاندې چې پاڅون یې کړی دی له اشغال سره لاس یو کړي. دوی غواړي دا هیواد تر درنو بهرنیو قرضونو او بارونو لاندې پریږدي. د رنسانس او اقتصادي پرمختگ لپاره یې ظرفیت کمزوری کړي. دا د دې لامل کیږي چې خلک یې بېوزله او منزوي شي، د ژوند لگښتونو د ډېرېدلو، بې کارۍ، نا هیلۍ، سیمه اېزې نا انډولۍ او د روغتیایي او تعلیمي خدمتونو د له منځه تللو لامل کیږي. خلک د هغه او دغه په منځ کې پاتې دي، غواړي چې دا وضیعت بدلون ومومي، خو نه پوهیږي چې څه وکړي؟!

اصلي لامل چې ورته نظام یې رامنځته کړ او خلکو یې پر وړاندې د ۲۰۲۰م کال، د ډسمبر په ۱۷مه پاڅون وکړ، د دې لامل شو چې غرب یې پر هیواد نور هم کنترول ډېر کړي. سربېره پردې د رښتینې او هوښیارې سیاسي رهبرۍ نشتون هم د دې لامل شو چې لاریون کوونکي له جزوي غوښتنو سره ستړي شي. د اصلي ناروغۍ پرځای

يې د ناروغۍ پر اعراضو باندې ګيچ کړي دي. همدا راز اسلام يې له قانون او حکومتولۍ څخه ليرې کړی دی، ترڅو خلک له بدلون څخه نا هيلي شي.

نن ورځ د تونس په خلکو کې اصلي او بنسټيز بدلون يوه اساسي موضوع ګرځېدلې ده. له سخت او شديد کار څخه پرته بل هيڅ انتخاب نشته، ترڅو دا واقيعت د اسلام پر اساس بدلون ومومي. د دې لپاره هڅه او کوښښ بايد له مخلصې رهبرۍ سره چې د خپل پروردګار په قانون يې منګولې لګولې وي يو ځای شي. ځکه چې له اصلي موضوع څخه خبر دی، دښمن او د هغه چل او نيرنګ پيژني. ترڅو د هغه د مداخلې لاس زموږ له هېواد او سرنوشت څخه غوڅ کړي. دا به زموږ شعار وي « دا خلک غواړي چې د الله سبحانه وتعالی قانون پلی کړي.» الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ]**

**ژباړه:** *«اې ايمان راوړونکو! د الله سبحانه و تعالی او د هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم بلنې ته لبيک ووایاست چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسې ته ژوند بښونکی دي. او وپوهيږئ چې الله سبحانه و تعالی د انسان او د هغه د زړه تر منځ حايل دی. د هماغه لوري ته به تاسې ور ټول کړای شئ.»* [انفال: ۲۴]

**دحزب التحرير-ولايه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ٦مه**

**۲۰۲۱م کال، د جنوري ۱۹مه**

**د صدور ګڼه: ۲۷/ ۱۴۴۲**